اطلاعاتو ته لاسرسی د روښتیا او دې ښې حکومتوالی نښه ده

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون ژمن دی چې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په رڼا کې له وړاندې خپلې کړنې او اجرات خپاره کړي.

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون کې، د سلواغې له۲۷ تر ۱ د کب پورې مهم تر سره شوي فعالیتونه.

**حقوقي سلاکار:**

۱- د کمېسیون په مالي او اداري طرحه کې اړین بدلونونه او له مرستندویه بنسټونو څخه د تخنیکي او مالي مرستو جذبول.

۲- ستره محکمه کې د متقاضیانو راپورونو وړاندې کولو طرزالعمل ناسته کې ګډون.

**د عامه پوهاوي څانګه:**

۱- د ملي تدارکاتو ادارې کې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په اړه د عامه پوهاوي پروګرام.
۲- اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په اړه د یو ورځیني ښوونیز پروګرام، همدارنګه اطلاعاتو ته د لاسرسي حق ورکشاپ، د حکومت حساب ورکړه ملت ته څخه عکاسي، راپور او خپرول یې په فیسبوک او وېب پاڼه.

**د بشري سرجینو څانګه:**

۱- د دارالانشا ریاست نوماندانو د مصاحبې لپاره په نوبتي ډول زمینه برابرول په یوه کاري ورځ کې.
۲- د دارالانشا ریاست نوماندانو ته د دې بست ازموینې پایلو اعلانول د دې ورځې په پای کې.
۳- د بشري سرچینو کارپوه ۴بست ته د ۳ نوماندانو شکایتونو ته رسېدنه.

**د شکایتونو څانګه:**

۱- د نفوسو د ثبت ریاست څخه د شکایت تعقیب، چې په پایله کې غوښتل شوي اطلاعات اطلاعات غوښتونکي ته ورکړل شول او شکایت وتړل شو.
۲- د حج او اوقافو وزارت څخه د شکایت څېړل چې د ایمېل او واټسپ له لارې اطلاعات شاکي ته ولېږل شول.

**د څارنې څانګه:**

۱- اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون ۱۵مې مادې پر بنسټ، د پنځو ادارو له وېب پاڼو څخه څارنه.
۲- د ادارو څارل شویو ویب سایټونو د ښوالي لپاره لازمې مشورې.
۳- د څارل شویو ادارو له اطلاع رسوني مسوولینو سره مشورتي غونډه.